# سزا ورکول


Adelheid Marie Bwire
Melany Pietersen
Darakhte Danesh

2
پښتو ps

یوه ورځ مور جانې ډېرې میوې راوړې.

موږ ترې پوښتنه وکړه، “کله دا میوې خوړلای شو؟” مور جانې وویل، “موږ به دا میوې د شپې خورو.”

خو زما ورور رحیم کنجوس دی. هغه د ټولو میوو خوند ګوري، هغه ټوله میوه خوري.

زما کوچني ورور چغه کړه: “دا وګورئ رحیم څه کړي؟” ما
وویل: “رحیم ډېر وران او خود خواه دی.”

مور جانه رحیم ته په غوصه ده.

موږ هم رحیم ته په غوصه یو. مګر رحیم هیڅ خفه نه دی.

زما کوچني ورور وپوښتل، “تاسو رحيم ته سزا نه ورکوئ؟”

مور جانې ورته وويل: “رحيمه! ته به ډېر ژر بخښنه وغواړې.”

رحیم ناروغ شو.

رحیم ورو وویل: "زما خېټه درد کوي."

مور جانه پوهېدله چې داسې به کېږي. میوه رحیم ته سزا ورکوي!

وروسته رحیم له موږ ټولو څخه بخښنه وغوښته. “زه به نور هېڅکله حریص نه اوسم.” هغه ژمنه وکړه. او موږ ټول په هغه باور لرو چې نور به حریض نه اوسي.

# Global Storybooks

globalstorybooks.net

## سزا ورکول

Adelheid Marie Bwire
Melany Pietersen
Darakhte Danesh

CC BY